# Aberkennungen von Asyl und subsidiärem Schutz in Österreich. Rechtslage und Praxis.

von Norbert Kittenberger

**Asyl :** هغه څوک چې د هغوي د پناه غوښتنې دليلونه د ژنو (جېنيوا) د ۱۹۵۱ تړون پر اساس منل شوي هغوي ته پناه ورکول کېږي.

**Subsidiärem Schutz** : هغه څوک چې د هغوي د پناه غوښتنې دليلونه منل شوي ندي خو په هيواد کې يې د خطرونو د شتون پر اساس دوي ته موقته پناه ورکول کېږي.
په اوترېش کې له حقوقي او علمي پلوه د پناه غوښتنې نه منل او موقته پناه ورکول.




© iStock/Ralf Geithe

د ÖVP-FPÖ ايتلافي دولت د لومړي وزير کورتڅ په مشرئ يوه برنامه دا ده، چې هغوي د پناه غوښتنې حق او پړاو سخته کړي. نوبرت کيتنبرگر په دغه موضوع چې آيا دغه سياست اغېز لرلی او څومره پناه غوښتونکو خپلې پناه غوښتنې او موقته پناه غوښتنې يي له لاسه ورکړي، بياکتنه کړې.

د کورتڅ د حکومت پر مهال يو څو سر ليکونه داسې ليدل شوي لکه "کيکل د پناه غوښتنې د آسانه ردولو په تړوا اعلانونه کوي "
(وينر سايتونگ, آنلاين خپرونه ,۱۲,۰۳,۲۰۱۹ ) يا رد شوي پناه غوښتنې او موقته پناه ورکول" :له ۵۰۰ نه ۱۶۴۰ ته رسيدلي." (کورير, آنلاين خپرونه, ۱۲,۰۳,۲۰۱۹). دغه د پناه غوښتنې حق تروړل او پړاو سختول د يوې مهمې سياسی برنامې نښه وه. ولې د دې مقالو په اصل کې څه پټ و؟

حقوقي اساسات

د پناه غوښتنې پړاو کېدای شي په مختلفو طریقو د پناه غوښتونکي په ګټه او یا زیان پای ته ورسېږي. د پناه غوښتونکي حالت د هغوي د ورکړل شویو دلیلونو څخه معلومېږي. هغه چا ته چې پناه ورکړل شي، اجازه لري چې د قانون پر اساس د درې کالو تېرولو وروسته تل دپاره په اوتریش کې ژوند وکړي. (د پناه غوښتنې ۳ قانون ۴بند د وکتل شي). د موقتي پناه غوښتنې لاسته راوړلو څخه وروسته، کولای شي چې د استوګنې اجازه چې د هغې په پار ورکړ شوې، د یو غوښتنلیک پر ورکولو تل وغځول شي البته تر هغه مهاله چې پناه غوښتونکی ددې استوګنې اړتیا ولري.
د پناه غوښتنې قانون دغه هم وړاندوینه کړې، چې پناه غوښتنې او یا موقته پناه غوښتنې ـ په اوتریش کې د استوګنې اجازې سره ـ بېرته هم اخیستل کېږي که چېرې پناه غوښتونکي چې خوندي دي ځیني کارونه وکړي او یا هم نور لاملونه پېښ شي.
دغه د پناه غوښتنې د رد په قانون کې،۷ قانون ۱ بند ، او همداسې د موقته پناه غوښتنې د رد په قانون ۹ قانون ۱بند کې لیکل شوي دي. دغه قانون همداسې د پناه غوښتنې نورو قانونو ته او د ژنو (جېنیوا) کنوانسیون ته اشاره کوي.

د رد کېدو مهم دلیلونه

په عمل کې د ردکېدو ټول دلیلونه یو شان نه دي. یوه پرتله ښایي چې ډېرې وختونه جرم کېدای شي د پناه غوښتونکي یا د هغه چا چې موقته خوندیتوب ولري د رد کېدو سبب وګرځي. پناه غوښتنه هغه وخت رد کېږي چې پناه غوښتونکي ته یو لوی جرم لکه، قتل او یا جنسي تېري له امله یوه حتمي سزا صادره شوې وي. هغه څوک چې موقته پناه غوښتنې(subsidiär Schutz) لري نه یوازې د یو لوی جرم لکه قتل او یا جنسي تېري له امله بلکه د هر جرم له امله چې د عمر بند او یا هم درې کاله بند حکم ولري او د محکمې حکم هم د جاري کېدو وړ وي د هغوی موقته پناه غوښتنه رد کېدای شي.
که چېرې یو څوک په خپله خوښه هغې هېواد کې پناه غوښتنه وکړي چې د هماغې هېواد تابعت ولري، د هغې پناه غوښتنه په اوتریش کې باطله کېږي. په اوتریش کې که چېرې یو سړی خپل د هېواد سفارت ته لاړ شي او یا هم هغه هېواد ته سفر وکړي چې د هغې نه تښتېدلی وي، د خوندیتوب د غوښتنې په معنی ده. که چېرې د کډوالو او د پناه غوښتنې اداره (BFA) پوه شي چې دغه سفر ترسره شوی، پناه غوښتونکی د پناه غوښتنې د رد پړاو سره مخ کېږي، اویا هم باید خپل دې عمل دپاره قانع کوونکي دلیلونه وړاندې کړي. د کډوالو او د پناه غوښتنې اداره (BFA) له نظره د هغې هېواد ګاونډیو هېوادونو نه چې پناه غوښتونکي راغلي ته دغه سفر هم د شک لپاره کافي دلیل دی.
که چېرې د پناه غوښتنې لپاره نوي دلیلونه هم ونلري، پناه غوښتنه یې رد کېږي. که چېرې یو څوک تر ۵ کاله زیاته پناه غوښتنه (Asyl) ولري، نه باید د دې وېره ولري چې هرومرو اوتریش پرېږدي. دغه وګړیو ته د پناه غوښتنې د ۷ قانون د ۳ بند له مخې د استوګنې یوه بله اجازه ورکول کېږي چې هغه په اوتریش کې پاتې شي.

هغه څوک چې موقته پناه غوښتنه لري دغه قانون ورته توپیر لري .که چېرې د پناه غوښتنې لپاره نوي دلیلونه ونلري، کېدای شي چې د هغوي موقته پناه غوښتنه له ۵ کالو وروسته هم رد شي.


د باطلېدو پړاو
که چېرې د رد کېدو پړاو روانه شي، دغه پړاو هېڅ د وېرې خبره نده. د کډوالو او د پناه غوښتنې ادارې (BFA) د رد پریکړې په مقابل تاسو د نظر د بدلولو غوښتنه وکړئ، چې د دې په اړه د فدرالي ادارې محکمه (BvWG) پریکړه کوي.
که چېرې یو سړی چې پناه غوښتنه او یا موقته پناه غوښتنه یې درلود ه او مدارک یې باطله شي او ډېر کالونه یې په اوتریش کې تېر کړي وي او په ټولنه کې ښه مدغم شوی وي، د دې چانس شته چې د رد د پړاو په پای کې د پناه غوښتنې د لومړي قانون د ۵۵ قانون د اروپا د بشري حقونو د ۸ مادې پر بنسټ (EMRK) هغې ته د استوګنې اجازه ورکړل شي. په عامه ژبه دواړه د استوګنې اجازې (د استوګنې اجازه او د استوګنې مثبته اجازه) ډېر وخت " د بشرپالنې له مخې د استوګنې اجازه" نومېږي.
د رد پړاو کولای شي چې د هغې سړي چې پناه غوښتنه یې منل شوې وي او یا موقته پناه ورکړل شوی وي په ګټه وي، ځکه چې هغه کولای شي خپل د منل کېدو څخه وروسته د ادغام سندونه ښکاره کړي. په ځانګړي توګه چې کار یې کړی وي او د هغې له لارې یې پېسې ترلاسه کړې وي او یا هم آلماني ژبه یې زده کړې وي ، دغه ډېر ارزښت لري.

د کورنۍ د دولت سیاسي پلانونه

د کورتخ دولت غواړي چې د پناه غوښتنې حق سخته کړي  او د هغې پر اساس هغه شرطونه راوړي چې تر اوسه د پناه غوښتنې او یا د موقتي پناه غوښتنې د لاسه ورکولو لامل شوي ندي. د کورنیو چارو وزیر پر پرېکړو هم نیوکه شوې، چې د خلکو پناه غوښتنه د یو لوی جرم له محکومیته وروسته باطل اعلان شي، خو د اروپا اتحادیې د دی مخنیوی وکړ. د پناه غوښتنې او یا هم د لنډمهالي پناه غوښتنې د رد کولو په هکله په تېر یو نیم کال کی هیڅ توپیر ندی راغلی.

د کورتخ په حکومت کې عملي رد یا باطلېدل

د کورتخ دولت سربېره پر دې چې کوښښ یې وکړ چې قانون بدل کړي، د اوسنیو قوانینو کارول یې هم سخت کړل. په رښتیا چې د ۲۰۱۸کال د رد شویو شمېر د تېر کال پر پرتله ډېر و. د پارلمان د سوالونو د ځوابونو په وینا چې دوه ځل تری پوښتنې شوي په ۲۰۱۸کال کې ۵,۹۹۱ د رد پړاو په جریان کې وه خو برعکس په ۲۰۱۷کال دغه شمېر ۱,۴۷۶ و. دا چې څومره خلکو خپل پناه غوښتنې او یا هم موقته پناه غوښتنې یې  د  کډوالو او د پناه غوښتنې اداري (BFA) له خوا له لاسه ورکړي، د کورنیو چارو وزارت پارلمان ته مختلف شمېر ورکړی. که چېړی د ۵.مارچ.۲۰۱۹ په ځواب کې  (۲۰۱۹/۳۳۴۵/AB-BR), وکتل شي، نو په ۲۰۱۸ کال ۱,۶۴۰ پناه غوښتنې او موقته پناه غوښتنې باطلې شوي. (په ۲۰۱۷ کال کې ۵۰۰ ).




Quelle: Beantwortung der Parlamentarischen Anfrage vom 5. März 2019, 3345/AB-BR/2019

که څه هم د (پناه غوښتنې او موقتي پناه غوښتنې) ردېدو پړاو په ۲۰۱۸ کال د ۲۰۱۷ کال څلور برابره وه، خو د اصلي شمېر درې برابره وه. ۴,۳۵۱ د ردولو پړاو بې معنی وه. د فدرال اداري محکمې د کاري چارو له مخې په ۲۰۱۸ کال کې د کډوالو او د پناه غوښتنې اداري (BFA) د تولو پریکړو نه ۳۷،۷ سلنه بدل شوي او یا هم رد شوي، دی نه ښکاري چې د کډوالو او د پناه غوښتنې اداري (BFA) د ډېرو رد شویو پرېکړو په ضد شکایتونه شوي دي  – او دا د کورتخ د دولت پایله (نتیجه) ده.
ماستر نوربرت کیتنبرګر  یو حقوق پوه (رښتپوه) دی چې د هغې تخصص د پناه غوښتنې د لومړني رښتو (حقونو) او د بشري حقونو په برخه کې دی. د ۲۰۱۳ کال تر ۲۰۱۸ کال پورې  د "Asyl in Not  ټولنې د حقوقي برخې سرپرست و. هغه په منظمه توګه د پناه غوښتنې په تړاو د موضوعاتو د حقونو  او بدې اړه د سوالونو په اړه وېناوې کوي. په ۲۰۱۷ کال د هغې د مشاورت دوهم چاپ Asylrecht kompakt " خپور شو.

د دې موضوع په هکله کتابونه او انټرنټي پاڼي:

BM Herbert Kickl: Beantwortung der schriftlichen parlamentarischen Anfrage betreffend „Aberkennungsverfahren nach dem Asylgesetz" , 19. Februar 2019, 2479/AB XXVI. GP, URL: https://www.parlament.gv.at/PAKT/VHG/XXVI/AB/AB_02479/imfname_738081.pdf

BM Herbert Kickl: Beantwortung der schriftlichen parlamentarischen Anfrage betreffend „Neuüberprüfung (Stichwort: Asyl auf Zeit) von Asylbescheiden im BFA 2018", 5. März 2019, 3345/AB-BR/2019, URL: https://www.parlament.gv.at/PAKT/VHG/BR/AB-BR/AB-BR_03345/imfname_740432.pdf

Bundesverwaltungsgericht: Tätigkeitsbericht 2018, URL: https://www.bvwg.gv.at/allgemeines/ taetigkeitsbericht/taetigkeitsbericht_start.html

Norbert Kittenberger: Asylrecht kompakt (2. Auflage), 2017 (insb. Kapitel IV.C. Aberkennungsverfahren), URL: https://shop.lexisnexis.at/asylrecht-kompakt-9783700771296.html

GEFÖRDERT DURCH DIE
ÖSTERREICHISCHE ENTWICKLUNGS ZUSAMMENARBEIT